په حقيقت کې الله جل جلاله سره او بد ليکلي، بيا يې بيان کړي دي، نو چا چې د نيکۍ اراده وکړه خو يې ونه کړه، الله تعالى به د هغه لپاره پوره نيکي وليکي، او که چېرته يې اراده وکړه او عمل يې پرې هم وکړ نو الله تعالى به ورته لس نيکۍ تر اوه سوه چنده، او څو چنده زياتې وليکي، او چا چې د بدۍ اراده وکړه خو عمل يې پرې ونه کړ نو الله تعالى به يې ورته د ځان سره پوره نيکي وليکي، خو که چېرته يې د بدۍ اراده وکړه او عملي يې کړه نو الله تعالى به ورته يوه بدي وليکي

له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت دى په هغه څه کې چې هغه له خپل رب څخه روايت کوي، فرمايي: «په حقيقت کې الله جل جلاله سره او بد ليکلي، بيا يې بيان کړي دي، نو چا چې د نيکۍ اراده وکړه خو يې ونه کړه، الله تعالى به د هغه لپاره پوره نيکي وليکي، او که چېرته يې اراده وکړه او عمل يې پرې هم وکړ نو الله تعالى به ورته لس نيکۍ تر اوه سوه چنده، او څو چنده زياتې وليکي، او چا چې د بدۍ اراده وکړه خو عمل يې پرې ونه کړ نو الله تعالى به يې ورته د ځان سره پوره نيکي وليکي، خو که چېرته يې د بدۍ اراده وکړه او عملي يې کړه نو الله تعالى به ورته يوه بدي وليکي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې الله تعالى نيکۍ او بدۍ اندازه کړي دي، بيا يې دوه ملايکو ته ورښودلي چې څنګه يې وليکي: نو څوک چې د يو نيک کار اراده، نيت او عزم وکړي، د هغه لپاره يوه نيکي ليکل کيږي اګر که عملي کړي يې هم نه وي، خو که چېرته يې عملي کړه نو هغه ورته لس چنده تر اووه سوه چنده او څو چنده زياتيږي، او زياتوالى په زړه کې د اخلاص او نورو ته ګټې رسوونې او داسې نورو کړنو په اندازه وي. او څوک چې د کوم بد کار اراده، قصد او عزم وکړي، بيا يې د الله تعالى لپاره پرېږدي، د هغه لپاره نيکي ليکل کيږي، او که چېرته يې لدې امله پرېښوده چې ورڅخه په بل کار بوخت شو او د هغه کار اسباب يې هم تر سره نه کړل، نو هيڅ شى ورته نه ليکل کيږي، او که چېرته يې د ناتوانۍ له امله پرېښود نو د نيت په اساس ورته - ثواب او يا ګناه ليکل کيږي - او که چېرته يې ګناه عملي کړه نو يوازې يوه بدي ورته ليکل کيږي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4322